# د نړۍ د ستر شخصیت حضرت محمد ﷺ

## په اړه د تاریخ په څېړو کې ډېر حیرانوونکي او زړه پورې څه

Ketabton.com

ژباړه او ترتیب: شمس الله «شاداب»

کال: ۱۴۰۰

2021

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د رسالې پېژندنه

| | |
|---|---|
| د رسالې نوم: | دنړۍ دسترشخصيت حضرت محمد (ﷺ) په اړه حيرانونکي اوپه زړه پوري....... |
| مولف: | مايکل هارټ (Michael Hart) |
| ژباړن: | شمس الله «شاداب» |
| ګرافيک او ډيزاين: | خپله ژباړن |
| کال: | ۱۴۰۰/۲/۰۲ يا *Thursday, April 22, 2021* |
| بریښنالیک: | mr.shahdab1212@gamil.com |

دچاپ حق دژباړن سره خوندي دی
Downloaded From Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حضرت محمد ﷺ د ژباړن خبري

*نحمده ونصلی علی رسوله النبی الکریم اما بعد فا اعوذبا لله من الشیطن الرجیم بسم الله الرحمن الرحیم ط*

دارساله دمایکل هارټ په نامه دیوه عالم دکتاب چي (دنړۍ سلو« ۱۰۰ » غوره اوستر شخصیتونو) په نامه یادیږي خلاصه او غوره چڼ دی. پدي مقاله کي دا یو داسي ستر شخصیت اړوند خبري کوو چي دا دنیا دهغه له لوریه الله سبحانه وتعالی عزوجل پیداکړي، زموږ مؤمنانومسلما نانو پردي با ندي ایمان او باور لرو چي دي (ﷺ) دالله عزوجل وروستی او اولنی نبي دی او ترټولو د لوړ مقام څښتن دی.

وهب بن منبه ویلي دي کله چي عیسی (علیه السلام) پیداسو نو ټول بتان چي وه هغه ټول وغورځیده. او د دي سترشخصیت حضرت محمد مصطفی احمد مجتبی او سردار دقونینو (ﷺ) والدي چي کله دنبي (ﷺ) حمل واخیستی نوټول بتان مات سوه کله دی (ﷺ) پیداسو نو بیا بتان دسجدي په حالت کي پریوتلي وه. دده نیکه دا شاهدي ورکوي(عبدالمطلب) کله چي زه په کعبه کي وخ یودم ټول بتان مات سوه او پدي وخت کي دکعبي دیوالونو آواز وکی چي نن ورځ دالله (ﷺ) آخري پیغمبر او محبوب سړی دي دنیا ته تشریف راوړی او ددي ستر شخصیت په لا سونو مبارکانو سره به الله عزوجل هغه کسان هلاکوي څوک چي دغیر الله عبادتونه کوي، او دغه مکه به دبت پرستی څخه پاکوي. او همدارنګه ددي ستر شخصیت په پیدایښت سره په کعبه کي دري ورځي زلزله وه، دارکم دفارس یعني آریران دباد شاهانو په مضبوطه محلونو کي زبردسته چاودنه رالل او اکثره قصرونه یي چپه سوه چي له امله یي دمحل ۱۴ ستني چپه سوي، دا رکم دعبادت لګول سوی اور یي مړسو. بله لا داچي ددي ستر شخصیت د پیدایښت څخه مخکي په عربواندي ډیري سختی راغلي وي اوقحط سالي وه، نو دده (ﷺ) په پیدایښت سره قحطي، سختیاني ، توري تیاري په رڼا بدلي سوي.

حضرت محمد رسول الله(ﷺ) دخپل مسلکیت او مسؤلیت پربنسټ یوازي دبلني له لاري نه بلکي دوینا او عمل په تساوي سره داجوته کړیده چي هغه په آداب معا شرت، انساني کرامت، استادانه مهارت،

## حضرت محمد ﷺ

سیا سي هنریت، اجتماعي ژوندانه، تقوی او هو ښیارۍ کي دا سي یو څوک وو چي دخپلي عقیدې دپیروان تر څنګ دلادینو مفکورو څښتنان هم پدې باوري وه چي دنورو انسانانو په پرتله حضرت محمد رسول الله (ﷺ) سترانساني شخصیت دی، دخپل سترتوب په سکا سو یي هغه څه تر شا پرېښي دي چي دوخت او زمان له هر راز شرایطو سره -سره دعمل په ترسره کولو انسان دنیکمرغۍ ترپړاوه رسوي اوهغوی ته هغه لاره په ګوته کوي چي دمعنوي او مادي جهان خیراو ښېګڼې ورته ټاکي، متا سفانه نن ورځ مؤمنانو مسلمانانو داهره تر شاه پرېښي او نورو شیان ته یي مخه کړې لکه دده (ﷺ) ار شادات، سنت طریقې او هغه احکات دده پوا سطه دالله عزوجل له لوري را ا ستول سوید، نو په همدې خاطرسره په ننۍ نړۍ کي مسلمانان دزیاتو ستونزو سره لاس اوګرېوان دي په تېره بیا افغانان ددوي ترمنځ بې آتفاقي، کرکه، بغض، عناد، سخت دلې ، دا اودې ته ورته نور بداو خراب خوېنو سته چي له امله ترنن ورځي نورو له لوري ځپل کیږي. راسی مؤمنانو مسلمانانو ورونو دنېر په څیر یوځل بیا یوبل ته لاس سره ورکړو او دپیغمبر (ﷺ) هغه ښیا سته سنت راژوندي کړو او هغه چي دده له لوري راوړل سوي په پوره توګ ورته کایل سو اوویي منو، نو الله عزوجل به مو دین او دنیا را ښایسته کړي، او ددې ناخوالو، بدبختیو، جنګونو، ناامنیو، بې علمیته ، اونورو څخه به مو الله عزوجل خلاص کی، او الله عزوجل فرمايي: ترڅو چي یوقوم په ځان کي تغیر راوستل ونه غواړي نو زه ترهغو پوري پدوی کي تغیرنه راولم. نو راسی مؤمنانو مسلمانان ودې جملې ته ومتوجه سو.

په درښنت

ستاسي ورو استاد شمس الله «شاداب»

ستاسو د دعا په هیله

۲/۰۲/۱۴۰۰ یا

رمضان المبارک ۱۱ مه **Thursday, April 22, 2021**



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حضرت محمد ﷺ

دمایکل هارټ (Michael Hart) په نامه یو شــخص وایي: مایکل هارت څوک و؟ مایکل هارټ یو معاصر تاریخ پوه او دریاضي عالم و، ده نور تاریخپوهان او شـجره پوهان راجمع کړل. دوی وویل راځي چی د په تاریخ کي د ۱۰۰ غوره اوسـترو اشـخاصـو لیسـت ترتیب کړو چي یوه غټ داستان راخلاصـه کړو، دوی د ۳۲ افرادو یولیسـت جوړ کړ په کوم کي چي دوی د تاریخ تر ټول غوره ۱۰۰ شـخصـیتونه انتخاب کړه، اجازه راکړی چي مایکل هارټ څه ویلي. دی وایي چي رسـول الله ﷺ ددې لیسـت په سر کي راوسـتل سـوی او هغه نور چي دده سره په لیسـت کي دی هیڅکله به هم ودې مرتبې ته ونه رسیږي او رسول الله ﷺ دغه مقام ګټلی، دمایکل هارټ وویل: ما غوښتل چي عیسـی علیه وسـلم ددې لیسـت په سر کي راولم لکه څنګه چي زه یو عیسـایي یم، مګر دلته ځیني داسي څه وه چي په حقیقت کي ما ونسـوای کولی چي هغه انتخاب کم. ځکه عیسـی (عليه السلام) یو پلار نه وو مګر رسـول الله (ﷺ) و. عیسـی (عليه السلام) دیوچا خاوند نه ومګر رسـول الله و. عیسـی (عليه السلام) یوسیاسـتمدار نه و مګر رسـول الله (ﷺ) و. عیسـی (عليه السلام) یو جنګیالی نه و مګر رسـول الله (ﷺ) و. عیسـی (عليه السلام) یو آمیر او واکمن نـه و مګر رسـول الـلـه (ﷺ) و. نو مـایـکـل هـارټ او دده نور ملګري/همکاران وایي: ترټولو غوره او ستر بشر کوم چي تاریخ او دتاریخ ټوله سندونه یي متاثره او تر نفوذ لاندې راوسـتلي هغه حضـرت محمد مصـطفی (ﷺ) و. دغه اظهارنامه به تاسي د نیویارک ټایمز(New York Times) په آرشـیف کي پیدا کی، کله چي تاسي یي سرچ کی، تاسـی کولی سـی ویي لولی، تاسي کولی سـی دلې په افغانسـتان او نوره هیوادو کي وکتابتونونو ته ولاړسـی، په نیټ کي پلټنه وکی، نو تاسي به شــواهد پیداکی. راځئ چي تاســو ته دهغو خلکو په اړه ووایم چي دده رسـول الله (ﷺ) او دهغه پیغام په اړه یي نورڅه ویلي: جورج بیرنارډ شـو( George Bernard Shaw) ویلي"که چیرې یوشــخص لکه محمد (ﷺ) دمعاصرې نړی دیکتاتورې او واکمني اخیسـتې وای، نو دی به بریالی وای، مشــکلات او ســتونزې به یي ورحل کړې وای، کوم چي دا زما و زړه ته ډیره خوشـحالي او آرمتیاء ورکوي. ده ویلي: زما انتخاب رسـول الله (ﷺ) دی کوم چي دنړی هغه دترټولو متاثره اشخاصو دلیست په سر کي مقام لري."

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیدای سي ځیني لوسـتوونکي حیران سي او د دوی سره پوښـتنې پیداسي، مګر دی (ﷺ) په تاریخ کي هغه یوازنی شــخص دی څوک چي په حقیقت کي په دواړو دنیایي او اخروي برخو کي کامیاب و. کیسـل ویکلي (Cassel's Weekly) وایي: هغه په ډیر لږ وخت کي دمدینې یو مذهبې، روحاني او دنیایي رهبراو واکمن سو. تردې پوري چي دایي په لاس کي وو چي ټوله جهان ولړزوي.

بیلیونونو مسلمانان د تیرو ۱۴۰۰ کالو راهیسي۔ درسول الله (ﷺ) دینې لارښـوونې دنړی په ګوټ ګوټ کي تعقیبوي. اه همدارنګه یي دسعودي دا بې رحمه، وچه دښـته او پس پاته ټولنه په یو ډیر ستر مدنیت بدل کړ. دی هغه یوازنی مشر۔ وو څو ک چي پخپل لرلید او ژوند پوهیدی. دی په مکه کي یتیم وزیږدی. دی په مکه کي را لوي سو او دمکې څخه وشړل سو. دی مجازات سو او ځورول سو، دده پلویان ووژل سوه، مګر الله سبحان وتعالی هغه ته ۲۳ کاله وروسته اجازه ورکړه. دیوه قهرمان او فاتح په ډول او کله چي هغه بیرته راغلی وتولو ته یي دعمومي بخښـې اعلان وکړ. دي پخپل لرلید او رسـالت پوهیدی. او دهغه څخه وروسـته رسـول الله (ﷺ) خپل پیغام وخلکو ته ورسـاوه. ده اسـلام د جزیرةُ العرب څخه دباند خپور کړ. نو پس اسـلام دیوه حکومت په ډول برقراره سـو. دی یو رهبر او واکمن و مګر ده په همغه ډول خوړل، څیښـل او اغوسـتل کوله لکه څنګه چي دی په مکه کي رالوی سـوی و. دالله تعالی پیغمبر (ﷺ). دی عادل او باانصـافه و. تردې اندازې پوري چي بیت المال یي دخپلو دوستانو او ملګرو ترمنځ نه تقیسماوه، دهغه چا په نفع چي محبت یي ورسره لری او دهغه چا سره چي محبت یي نه ورسره لری قضـاوت یي نه کوی. لکه پادشاهان، واکمنان، رئیسان، شتمن، قاضیان او لکه هغه څوک چي په تاریخ کي یي داسي کړني ترسره کړیدي. دا هغه شــخص دی چي یدي نړی کي یي همیشــه د آخیرت په اړه فکر کوی، څکه الله ﷻ پرده باندي دا آیت نازل کړی «والا خرة خیر وابقی» «سـورة الاعلی، آیت نمبر «۱۷»»
ژباړه: په داسي حال کي چي اخرت ډیر غوره او باقي پاتي کیدونکی دی.

دده پیغام دا دی چي بشر‌ـیت دالله عزوجل وعبادت ته راوبلي او د مځکي پرمخ ټوله نابرابري او نامساوات له منځه یوسي. او داسي یو انساني اخلاقي ځانګړې نمونه منځته راو ړې تر څو انسانان یي تعقیب کړي. که چیري یو څوک قرآن ولولې، تاسي به په هره صـفحه کي دغه پیغام ووینی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حضرت محمد ﷺ

دغه هغه څه دي کوم چي رسول الله ﷺ بل هر رهبر او پیغمبر یي مستثنی کړي. دالله پیغمبر(ﷺ) پخپل ژوند کي هیڅکله پخپل لاس سره څوک ندی وهلی، نه یو خدمتگار، نه یوه میرمن،نه یو کوچنی، نه یو ملگری او دښمن بلکي بغیر له هغه دښمن څخه چي دالله عزوجل او درسول الله ص داحکامو څخه یي سرغړونه کول، کله چي به صحابوۀ دجنگ په میدآن کي درسول الله (ﷺ) پلټنه کول، نو دوی وویل: والله موږ به رســول الله ص دجنگ په میدآن کی لیدی او د دښــمنانو سره به یي جنگیدی. او دوی ویل: او موږ به دهغه حفاظت کوی، او موږ به دجنگ په میدآن کي خپل ځانونه درســول الله ص په بغل کي پټول، او دی دجنگ په میدآن کي یو قوي جنگیالی او واکمن و، دالله عزوجل په لاره کي به یي آمر او جنگ کوی مگر کله چي به یي جنگ بس کی، سترگې به یي کښته سوې او نرمې خبري یي کول، دی (ﷺ) مهربانه او ملایم و، دی پرهیزگاره او دلســوزه و او زړل به یي. پیغمبر (ﷺ) به دورځي په جریان کي یولړ کارونه ترسره کول(وغریبو ته یي خوراک ورکوی، او دمریضــانو لیدنه به یي کوله)، یو ځیان به یي مجازات کوله لکه دیوه واکمن او قاضي په څیر، دخلکو سره یي خبري کولې، دښځو سره یي کالي مینځل، دزکات ورکول، دخپلو کالو گنډل، دخپل کور کتل، دکور سودا کول، ټول هغه کارونه یي کول چي ما او تایي ترسره کوو، او دشــپې به یي ۴ یا ۵ ســاعته لمونځ او د الله عزوجل عبادت کوی او د ورځي به یي په جگړو کي برخه اخیسته، یوځیان یی مجازات کوله، احکام به یي ورته ورکول، قرآن به واضیح او تفسیراوه، خلکو ته به یي لارشــونه کول دښــو اخلاقو، څنگه یو شــخص داټول کړني ترسره کولی سي او همدارنگه دشــپې ۵/۴ عبادت کول په یو وخت کي، نو دا به څنگه یو انســان وي. دایو پیغمبراو یو رسول و، دا هغه شخص و کوم چي دواړه مسلمانانو او غیر مسلمانانو ته یي پیغام راوړی ، دقرآن لمخي ـــ رسول الله (ﷺ) پر مؤمنانوباند شـاهدو، دا دپیغبری یو جز نه و، دی هغه شـخص وچي دخلکو سره به یي په نرمی ملاقات کاوه . هغه ددې کار لپاره نه انکاریدونکی گومارل ســوی و، دی هغه یو نالوستی پیغمبر و، هغه یو زړه سواند مهربان پیغمبر و، دی دبشریت لپاره رحمت و، دی پرمؤمنانو شـاهد و او مؤمنا بیا پر بشریت باندي شـاهدان و، هغه ددې نړي لپاره رحمت و، دهغه منل او پیروي کولو له لحاظه یو بهترین مثال و، هغه ددې بشرـــیت لپاره آخرنی نبی دی، هغه


(c) ketabton.com: The Digital Library




## حضرت محمد ﷺ

دانسانانو او پیران لپاره را لیږل سوی و، او هغه پر هر سیستم باندي فاتح او بریالی و، او هغه په یو ډیر بهترین آنداز سره خلق سو و.

ای مسلمانانو او غیر مسلمانانو ، په ټوله تاریخ کي داسي شخص نسته چي درسول الله (ﷺ) سره دي مقایسه سی.




نه کانفیوشس




نه ګواتاما بودا




نه بونپارت ناپلیون




نه لوی اسکندر


ژباړه او ډیزان : ش. «شاداب»

(c) ketabton.com: The Digital Library




# نه کانستانتين




# نه جوليوز سزار




# نه مهاتما ګاندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت محمد ﷺ





نه کینګ ریچارډ




نه کینګ فردیناند




نه وینستون چرچیل





نه چارلز داروین

(c) ketabton.com: The Digital Library







نه ډینګ شاوپینګ




نه کارل مارکس




نه البرت انستاین





نه مارتین لوتر او نه

کشر مارتین لوتر

(c) ketabton.com: The Digital Library






نه جورج واشنګټن




نه جان اف کینډي




او نه په حقیقت کې بل کلینټون




نه ټوني بلیر

ژباړه او ډیزان : ش. «"شاداب"»

(c) ketabton.com: The Digital Library






## نه جان هاوارډ




## نه مشر جورج بوش




## نه کشر جورج بوش

ژباړه او ډیزاین : ش. «"شاداب"»

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه تاسې او نه زه، نه زموږ والدين، نه زموږ دوالدينو پلرونه اونه هغه څوک چي زموږ له نيکه گانو څخه دي ددې شخص سره مقايسه کولی سو.

زه وغير مسـلمانانو ته درسـول الله (ﷺ) په اړه وايم: زه درته وايم کورته ولاړسـی او درسـول الله (ﷺ) په اړه همداوس مطالعه وکی، که چيري تاسي جرئت لری، که چيري تاسي دتغير څخه نه بيريږی، څکه که چيري تاسي درســول الله (ﷺ) په اړه دزړه د اخلاصـــه او په ويښ فکر مطالعه وکړی، نوبيا ددې امکان ســته چي ددغه شــخص مينه، محبت او احترام به ســتاسي په ژوند کي وسـتاسـو زړونو ته راسي، سـتاسي دماغ ته، سـتاسي کورنۍ ته، او همدارنگه تاسي به دده پيروان جوړيدل وغواړی، او که چيري تاسي دا کاروکی، نو هيڅکله به دهغه ســتاسي نوم لوړنسيــ، او هيڅکله به تاسي په غوره امت کي ونشميرل سی او دابه ستاسي لپاره گټه وی، نو موږ تاسي ته دا دعوت درکو چي پوه سی او ددغه شخص او دده دپيغام احترام وکی او ويي منی.

واخير دعوان انلحمدالله رب العلمين

او الله سبحانه وتعلی عزوجل دې موږ اوتاسي ته د داسي ستر شخصيت سره د ډيري مينې کول، پرهغه د درود ويلو او دهغه ﷺ شفاعت په ورځ دمحشرگاه رانصيب کړي .

آمين ثم آمين يا رب العلمين.

ماخذونه

## References

1. *Hart, M. (n.d.). The 100 A Ranking of the Most Inflential Persons in History.*

*2. RationalBeliver المؤمن الرشيد*

Ketabton.com: The Digital Library



Translator: Shamsullah " Shahdab"

صلى الله عليه وسلم

# MOHAMMAD

## The Greatest Human in The History

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**